


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# داکتر صلاح الدین « سعیدي »

د نشر نیټه: 12 اپریل 2026 میلادی

# یو توافق شوي معیاري قاموس ته اړتیا!

ایتومولوجي ( ایتومولوژي) د ژبپوهنې له۱۲ علومو څخه یو علم دی. ایتومولوجي د یو لغت تذکره او تأریخ بیانوي او دا تشابه او ورته والی د لیکنې او تلفظ په مختلفو ژبو کې نباید سره ساده مغالطه شي.

د پښتو ژبې صاحب، صیب چې د احترام لپاره کارول کیږي، بعضې وختو کې سره مغالطه، خو عامیانه هماغه: هو صیب دی. دلته د عربی ژبې صاحب سره مغالطه نه ده پکار.

صاحب عربي ژبه کې ملګري، انډیوال، رفیق او هملاري ته وایي.

صحابي لغوي او بیا اصطلاحي او دیني معناوې سره ورته والی لري او هم له همدې اصله ده!

صیب ( د ی په تشدید) عربي او قرآني ژبه کې باران او د دغه پښتو ( صیب ) سره هیڅ تړاو نه لري.

صایب چې له عربي صائب نه اخستل شوي، پښتو او دري کې کله صایب او کله د عربي رسم الخط تر تاثیر لاندې په عربي بڼه لیکل کیږي، دواړه بڼې خطا نه دي. دا ( صیب اوصایب ) دوه جدا کلمې دي او ( صایب ) د صیب او صاحب سره له سره تړاو نه لري.

لاندې مثال او متن ځیر شئ: که مفتي د فتوا شرایط لري او یوه فتوا ورکړي، که فتوا یې صایبه ( صائبه ) وه نو دا دوه ثوابه لري. د اجتهاد او فتوی ثواب او در صائب نظر او فتوی ثواب ! که د صواب نظر خاوند او د صائب یعنې وارد او درست نظر خاوند چې په هدف لږېدلي نظر ته وایي ریښتیا او درست ، صایب مقصد او نظر تقدیم کړ، نو الله تعالی به ورته ( ان شاء الله تعالی ) ستر اجرونه ورکړي!

نو صائب نظر، درست او رسېدلي نظر ته وایي!

دلته د ثواب او د صواب کلمو ته لکه څنګه چې پاس مثال راوستل شو، دقت پکار دی! هو چې د حق کار کول ثواب او اجر لري او د صواب نظر لرونکی د وارد او درست نظر لرونکي ته ویل کیږي! صادق او د شرایطو لرونکو مفتیانو فتاواو ته په همدې نظر کتل په کار دي! هو دا کلمې نن سبا د لیکنې په وخت بعضې یې د عربي ژبې تر تأثیر لاندې ( ئي ) لیکي او بعضې پښتوکي( یی ) لیکي. زه دا دوییم حالت ته ارجحیت ورکوم!

ژبه، لیکنه او املاء کې نن روش او دود دادی چې هغه لیکه چې ویل کیږي. دا نظرنن سبا ستر مشکلات پاروي او معنا په پښتو کې مانا لیکي او له دې سره زه مخالف یم. څارنوال په سارنوال لیکي او دا غلط فهمی ایجادوي.

څارنوال د څار څخه او د پښتو څار نه اخیستل شوای او درسته لیکنه ده او سارنوال کې د ( سار ) استفاده کیږي چې بې معنا او لیکنه د لیکنې لپاره کارول کیږي او دا خطاء کړنه ده. خو په یقین سره عربي مقدس نصوص باید هماغسې ولیکل شي ، چې قرآني بڼه لري. دلته د داووْد، داوُد، داوود، داود لیکنه ده، چې قرآن کریم کې داود هم راغلای دی.

اوس معموله بڼه را ته داؤد، ښکاري او معنا باید معنا ولیکل شي او څارنوال باید څارنوال.

اوس چې دغه بحث کې یو، لندن کې یو عربي الاصل نوم ترافلګر سکویر لوستل او لیکل کیږي. اکثره یې خلک په اصل د تلفظ خبر نه دي. دا نوم اصل کې ( طرف الغار ) او له هسپانې نه د هغه مشهور انګلیسي جنرال کارنامې یاد څلی دی چې هلته د عربي ژبې ، څخه راځې او دا ستره غیر متوازنه جګړه ، د غار په غاړه، واقع شوې وه!

ایتومو لوجي د ژبپوهنې له علومو یو جالب علم دی او کله کله مونږ د ژبو د کلماتو د محدودې پوهې له وجهې، ګمراه او خطاء نتایجو او پایلو ته رسوو. زه دلته د تیمې کار اړتیا چې د مختلفو ژبو پوهان سره ککړې شریکې کړې، سفارش کوم او دا کار د علومو د اکاډمۍ او ژبپوهنو مراکز کار دی او بیا ښې پایلې لرلای شي!

مننه

داکتر صلاح الدین « سعیدي »

بازګشت به صفحه اصلی – [www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)